# په خښتوکې محصور

دافغانستان دخښتو په بټیو کې د کارځانګړومحدودیتونوته یوه لنډه کتنه

لنډراپور – ډسمبر- ۲۰۱۱

**په خښتو کې محصور:**

**د افغانستان د خښتو په بټیو کې د کار ځانګړو محدودیتونو ته یوه لنډه کتنه**

**لنډ راپور – ډسمبر- ۲۰۱۱**

په دې څیړنه کې هڅه شوې، چې تړلی یا وابسته کار (هغه کارونه چې د ځانګړیو قیوداتو لاندې ترسره کیږي) د افغانستان ددوه ولایتونو(کابل او ننګرهار) دخښتو په بټیو کې ترسره کیږي، سم او مناسب تعریف رامنځته شي. تر څو دیو ډېر معمول او زیانمن کار چې تر اوسه په افغانستان کې پیژندل شوي د هغه غوښتنې او عرضې انځور یا تشریح وړاندې شي. دغه څېړنه د پراخو بشري او وده ییزو اړخونو په نظر کې نیولو سره هغه تړلی کار تر څېړنې او تحلیل لاندې نیسي چې د خښتو په بټیو کې ترسره کیږي، ترڅو شریکانو ته د ترلي کار د زیانونو توجه او رسیده ګي په لړ کي د اجتماعي اقتصادي اوسیاسي استراتیژیو په رڼا کي ورته مرسته برابره کړي. دغه څیړنه نزولي او صعودي انځور وړاندې کوي چې د ننګرهار په سرخرود او د کابل په ده سبز ولسوالیو کې له راټولیو شویو معلوماتو او د هغه کارګرانو سره له لیدنې وروسته تحلیل شوې، چې د ځانګړو شرایطو لاندې په تړلی یا وابسته کار کې بوخت دي، دغه راز دا معلومات د سیمه ییزو مشرانو او د ښکېلو وګړیو او متخصیصنو څخه چې د ۲۰۱۱ کال د اګست او اکتوبر په میاشتو کې ترلاسه شوي .

I: اساسات : دخښتو په بټیو کې د تړلی یا وابسته کار پیژندنه

د تړلي کار عرضې او تقاضا په کتنې سره، دغه برخه هغه عوامل په ډاګه کوي چې خلک دغه تړلي یا وابسته کار ته اړ کیږي او یا هغوی د قرضی ورکولو په بنسټ دې کار ته اړ کیږي. همدا راز موږ د هغو ماشومانو چې په تړلي یا وابسته کار بوخت دي، د مور او پلار د پریکړې په اړه او د هغه د پایلو په مخو مو له نژدې څخه کتنه کړې ده.

### کارخانې ولې د تړلي یا وابسته کار لپاره د قرضې ډالۍ کاروي؟

د خښتو اچولو ستونزمن کار او لږ مزد، فابریکو ته د استخدام او د کارګرانو د ساتنې له ستونزې سره مخوي.(جدول ۱۱) ماشومان او لویان تر ډېره د کار ګر په توګه په اونۍ کې (۷۰) ساعته کار کوي او مکرر فعالیتونه تر سره کوي، د قالب اوچتولو اکثر مراحل په ستونزمن حالت سره تر سره کوي او په دوامداره توګه له ځینو عواملو (لکه لمر ، تودوخه او دوړو ) سره مخ وي.

له وخت وړاندی دمعاش د سیستم په ګټه اخستو سره د بټیو خاوندان په دې توانیدلي چې منظم کار پر لږ لګښت ورته مساعد او یا هم ترسره شي. د خښتې اچونې(جوړنې) صنعت په ټوله نړۍ کې له داسې لاریو کار اخلي چې کار ګران او د هغو کورنۍ د کار خانو سره بوخت او وتړل شي. او د معاش کچه یې ټیټه وساتل شی. د منظم کار د رامنځته کولو نورې خواوې لکه د معاش او شرایطو ښه کېدل په اوسنی وخت کې د امکان وړ نه دي، له همدی کبله د خښتو صنعت له اوسنۍ بدې ورځې سره مخ شوی دی.

د رقابتونو او ازاد بازار لوړې سطحې او لږ ګټې، د دې سبب کیږي چې پر فعالیتونو، په ځانګړې توګه پر معاشاتو سخت فشار رامنځته شي؛ ځکه، نو د بټیو لرونکي معاشونه نه شي لوړولی او شرایط پرته دخښتو د بیو له لوړولو او ګټور نرخ ورکول په خپله ښه کړی.

**مهم اصطلاحات:**

**اجباري کار** هغه کار دی چې په مجازاتو د تهدید پر علت ترسره کیږی او کارګر خپله او یا خپل خدمات په داوطلبانه توګه نه وړاندې کوي.

**د قرضې تر لاسه کولو په علت تړاو(تړلی یا وابسته کار)** دا هغه حالت دی، چې یو شتمن کس شخصي خدمت او یا خلك د قرضې د تضمین په مقابل کې تر خپل کنترول لاندې نیسي. نه د کار مزد د قرضې د ورکولو لپاره په عادلانه توګه ټاکل کیږي او نه د کار دوام او خدماتو په مشخص ډول ټاکل کیږي.

**د ماشومانو کار:** دا هغه کار دی، چې پر ماشومانو ترسره کیږی او د هغه د ښوونې او روزنې خنډ او د عقلي،فزیکې، اجتماعي یا روحي زیانونو او خطر د رامنځته کېدو لامل کیږی. د ځانګړیو قیوداتو لاندې د ماشومانو کار دخښتو په بټیو کې تر ټولو ستونزمن کار دی، چې پر ماشومانو ترسره کیږی.

**(۰,۱) جدول، د خښتو اچوونکو د ورځني مزد**

| ولسوالی | کارګر | دهر زر خښتو د بیې میزان | د هری ورځې دخښتو شمیر | ورځنی معاش |
|---|---|---|---|---|
| ده سبز | لوی | ۳۷۰ افغانۍ له ۷,۷۶ امریکایي دالرو معادل | ۱۱۰۰ | ۴۰۷افغانی/۸,۵۴ امریکایي دالر |
| | ماشوم | | ۷۵۰ | ۲۷۸افغانی/۵,۸۲ امریکایي دالر |
| | کورنی | | ۲۳۲۰ | ۸۵۴افغانی/۱۸,۰۱امریکایي دالر |
| سرخرود | لوی | ۲۷۰له ۶۷,۰امریکایي دالرو معادل | ۱۱۰۰ | ۲۹۷افغانی/۶,۲۳ امریکایي دالر |
| | ماشوم | | ۶۳۰ | ۱۷۰افغانی/۱۳,۵۷ امریکایي دالر |
| | کورنی | | ۲۲۴۰ | ۶۰۵افغانی/۲,۶۹ امریکایي دالر |

د خښتو تولید فابریکي ولي له ماشومانوله کاره ګټه اخلي؟

له ماشومو کارګرانو یوازی د معاش د لږوالی لپاره او یا دا چې فکر کېږي دغه کار ته مناسب دی ګټه نه اخیستل کېږی، بلکې د بټیو لرونکي پوهیږي چې ماشومان د غټانو په پرتله لږ تولیدي ځواک لري، او په هماغه بیه هره خښته ورته حسابیږي، خو بیا هم د فابریکو لرونکو ته ګټور دي.

**په جنسیت د ورکړې ډېرول:** هغه کورنۍ چې د خښتو اچوونکو په توګه کارکوي سر پناه، اوبه او برېښنا ورته برابریږی. هغه کورنی چې دوه یا لس غړي یې کارکوي دا ډول مزد یو شان تر لاسه کوي . کوچني کارګران د بټیو د لرونکو سره مرسته کوي، چې د کورنۍ د نورو غړیو څخه په ګټه پورته کولو په جنسیت ورکړې ډېروالی ممکن کړي.

**د کورنیو لوړ تولیدي قابلیت:** ماشومان په کاري چارو کې هم مرسته کوي که څه هم ښکاره نه وي؛ خو د لویانو د تولید کچه زیاتوي. ماشومان د اوبو په لیږدولو، د کار ځای د پاکولو او په قالبونو کې د خښتو اچولو لپاره په خټه اچولو کې له خپلو خپلوانو سره مرسته کوی. هغو د کور په کارونو کې لکه پاک کاری، پخلی، له کوچنیو خویندو او وروڼو څارنه او د اوبو په راوړلو کې ونډه اخلي او د کورنۍ د نورو غړو لپاره د کارکولو وخت برابروي چې د خښتو په تولید کې یې وکاروي.

**ولي خلك د قرضې د ترلاسه کولو پر بنسټ ترلي یا وابسته شرایط مني؟**

د افغانستان ډیری هغه کورنۍ، چې د خښتو د تولید په بټیو کې کارکوي؛ په پاکستان کې د ژوندانه او مهاجرت پر مهال د پور اخیستنې له امله زیانمنوونکي شوي وې. څه نا څه ټول ٪۹۸ کورنۍ، چې سروې شوي؛ په پاکستان کې مهاجر شوي او هلته د کافي مهارت د نشتوالی پر لامل یې د خښتو په بټیو کې کار کړی دی.

د کورنۍ د اعاشې او اباتي مسؤولیت په لرلو، لږ مهارت او څه نا څه د مالي اعتبار نشتوالی، کورنیو د خښتو بټیو ته مخه کړي، ځکه له ځو محدودو ځایونو کولی شي چې ترې مخکی له وخته معاش او هم د جنس په توګه ورکړه لکه کور او اوبه ترلاسه کړي، کورنۍ په منځني توګه ۸,۸ غړي وي او د ٪۸۳ کورنیو سر پرستان بیسواده دي.

**کورنیو ته پور:** کورنۍ د خښتو د بټیو څخه د خپلو لومړنیو اړتیاوو لکه غذا او روغتیايي لګښت د پوره کولو لپاره پر سرپناه او کار موندل پانګونه کوي (جدول ۰,۱). نو پر دې اساس د پور مسله په وخت او زمان نه محدودیږي، بلکې یوه جوړونکې اوږدمهاله دوران (سیکل) خپلوي، چې کورنۍ په تل پاتې توګه له کار فرمایانو سره د ګرو په توګه پاتې کېږی. په دې دوران او ترڅ کې کورنۍ مخکې لدې، چې مخکی له وخته پیسې پرې کړي؛ د نور پور اخیستلو ته اړ کېږی.

هغه کورنۍ چې سروې شوي وي په منځنۍ توګه یې د ۳-۴ پورې مخکی له وخته معاش د پنځه کلونو په بهیر کې ترلاسه کړی دی. همدارنګه کورنۍ د پور د ورکولو لپاره کله چې له یوې کارخانې څخه بلې ته د غوره شرایطو په هڅه مراجعه کوي، پور ترلاسه کوي.

(۰،۱) شکل، هغه عوامل، چې کورنۍ د بټیو له خاوندانو څخه پور ترلاسه کوي[1]




که څه هم پرمختګ ورو دی، ډیری کورنۍ په مشکل کولی شي پور پرې کړي. د کورنیو د هغو پورونو د اوسط پرتله له پاتي موجود پور سره چې د پنځه کلونو په بهیر کي رامنځته شوي؛ ښايي چې کورنیو ډیری پور چې د تیرو پنځه کلونو په بهیر کي ترلاسه کړی، ورکړی دی. (جدول ۰،۲) خو د ډیر مخکی له مخه معاش اخیستني دایمي اړتیا (چې ډېر ځلي د طبي او درملني او اساسی اړتیاوو) ډیری کورنۍ له کارفرمایانو سره تړلي دي.

**محدودې هڅې او محدوده ازادي:** پر پور سربیره د آزادۍ هغه فرصتونه چې په ترلاسه کولو پیداشوي دي. پر هغو محدیتونو چې په قراردادونو کي يې درج دي په هیڅ شمیرل کیږی. کارفرمایان د کورنیو ټول غړي د ابتدايي او ثانوي کار له لیټون څخه چې له کارخانې بهر وي په کلکه مخه نیسي. له کارخانې وتل او بل هر راز فعالیت په وخت او مکان محدود ګڼل شوي دي. له بټیو بهر فعالیتونه یوازی د اړتیا په صورت کي ممکن دي هغه هم د لومړنیو اړتیاوو او یا ډاکتر او کلینک ته له تګ راتګ سره تړاو پیداکوي.

**(۰،۲) جدول، د کورنیو د اوسطه پور توپیر**

| ولسوالی | دورستی پور کچه | د بیا ور کولو کچه | پاتی پور | د پور مجموعه (حد اوسط ۵ کاله) |
|---|---|---|---|---|
| ده سبز | ۵۵۰۰۰افغانی<br>۱۱۵۴دالر | ۲۱۴۰۰افغانی<br>۴۴۹دالر | ۳۳۶۰۰افغانی<br>۱۰۵۳دالر | ۱۳۳۹۰۰افغانی<br>۲۸۱۰دالر |
| سرخرود | ۶۴۸۰۰افغانی<br>۱۳۶۰دالر | ۱۷۵۰۰افغانی<br>۳۶۷دالر | ۴۷۳۰۰افغانی<br>۱۲۶۶دالر | ۱۱۵۶۰۰افغانی<br>۲۴۲۶دالر |

۱. [1] د ۱۸٦ کورنیو د جوابونو پر اساس

**(۰,۱) صندوق، د ښځو په ټولنيزو کې د افرادو تفکيك د جنسيت له مخې:**

**هغه ارقام چې د جنسيت د ترکيب پر بنسټ له نورو ځايونو څخه ترلاسه شوي د افغانستان د ښځو له ټولنو سره ډېر توپير لري. د نيپال او هندوستان د ښځو په ټولنيزو کې د کارځواك په ټولنيزه توګه ښځې او ماشومان دواړه جنسه دي.[۲] که څه هم افغان کورنۍ چې د ښځو په ټولنيزو کې کارکوي له ډېر فقره ځوريږي ښځې او بالغې پيغلې يوازې په ډېرو اړينو حالاتو کې له کور بهر کار کوي.**

**حتى په ګاونډي هېواد پاکستان کې هم پرته له افغان مهاجرو يا غير رسمي مهاجرو، ښځې د ښځو په ټولنيزو کې پيداکولی شي.[۳] د کار له ځواکه په افغانستان کې د ښځو ښېلول د ماشومانو کار ته زمينه برابره کړې؛ ځکه له والدينو يوازې يو کس اقتصادي ځواك وي او يا د اقتصاد له نظره فعال کېدای شي.**

۳۲

### په ماشومانو ټينګار او تمرکز: ولې والدين خپل ماشومان کار ته اړ کوي؟

۵۶٪ ښځې اچوونکي په افغانستان کې ماشومان دي، چې ډېری يې ۱۴کلن او يا له دې ټيټ عمر لري.(شکل۰,۲) نجلۍ د عمري ګروپ په ۱۴ کلنو يا له دې په ټيټ عمر کې دی؛ ځکه فرهنګي ملحوظات يې نه پرېږدي؛ چې په پيغلتوب کې له کور بهر کار وکړي. (شکل ۰,۳) دا په دې معنا نه دی، چې د هغو کار درېږي، بلکې دغه حالت د بازار له کاره د کور کار ته بدلېږي او له سر شمېرنې (احصايي) پاتې کېږي.

**د تجمل د اصل پر بنسټ،** کورنۍ خپل ماشومان يوازې د مجبوريت له مخې چې له لوږې او فقره رامنځته شوی کار ته لېږي. په بله معنا هغه ماشوم چې کار نه کوي(د تعليم د فراغت وختونه) يوه تجملي څيز او يا شی دی.[٤] دغه موضوع دده سبز، سرخرود د ښځو په ټولنيزو کې حقيقت ګڼل کېږي. هغه کورنۍ چې د تل پاتې او پای نه لرونکي پور سره مخ دي په دې اند دي چې له ټولو کاري منابعو ګټه پورته کړي. حتى که کورنيو ته زيان هم ولري دغه کړنه د اړتيا او لوږې له مسلې بهر ده، چې کورنۍ خپل ماشومان د ښځو ټولنيزو ته لېږي.

**د تعليم او فراغت وخت** د ښځو په ټولنيزو ډېر لږ وي. يوازې د هغو کورنيو، چې سروې شوي ۱۵٪ماشومان ښوونځيو ته ځي هغه هم يوازې دا ځواک لري چې په ښوونځي کې حاضر شي په ننګرهار ولايت کې ښوونځيو ته لاسرسی يوازې په هغو سيمو کې چې د ښځو په ټولنيزو لري او ديونسيف د رهبرۍ برنامی په کې ښوونځي جوړ کړی ممکن شويدي. (۰,۲) جدول، په داسی حال کې چې د قابليت او وړتيا لاسرسی خپله يوه مسله ده دماشومانو د نه حاضريدلو علت ښوونځي ته د کورنيو داړتياوو په پوره کولو کې د هغه مرسته ده.

---

۲. د[2]DARTMOUTH د کالج مرستيال پروفيسور ERIC EDMONDS د مرکې په اساس، ۲۱ اکتوبر ۲۰۱۱

۳. ILO [3] (۲۰۰٤)، په پاکستان کې غير آزاد کار: د ښځو په ټولنيزو کې کار، پور او وابستګی،) ۲٤ کاري سند. د ILO له پاره د پاکستان تعليمي او څېړنيز انستيتوت له خوا چمتو شوی .

٤. Basu, Kaushik and ZafirisTzannatos [4] (۲۰۰۳) (د ماشومانو د کار نړېوالي ستونزې: څه پوهېږو او څه کولای شو؟) د نړيوال بانك اقتصادي څېړنې. ۱۷ جلد، دويمه شېمره، ۱٤۷- ۱۷۳ مخ.

**(۰,۲) شکل، د خښتو دتولید لپاره د جنس او عمر پر بنسټ د کاري ځواک تفکیک**[۵]




**شکل (۰,۳) د نجونو او هلکانو پرتله چې په بټیو کې کارکوي**[۶]

پرته له هغو ټول تعداد ماشومان چې په سیمه کې ژوند کوي

**له یو پلوه:**
ډیری ماشومان چې د بټیو په چاپیریال کې ژوند کوي په ۷ او ۸ کلنۍ کې کار پیلوي.
په ۱۳کلنۍ کې د ترلیو کورنیو ټول ماشومان کارکوي. په داسې حال کې چې د نجونو شمېر چې په بټیو کې کارکوي ډېر کموالی مومي.




---

۵. [5] د خښتو په بټیو کې د ۱۹۰ یمې سروې پر اساس چې ۱٦٦٦ ماشومانو د خښتو د بټیو د معلوماتو د ټولوني چې ۷۳۱ تنه یې په دغو کارخانو کې کار کاو

٦. [6]د خښتو په بټیو کې د ۱۹۰ یمې سروې پر اساس چې ۷۳۱ ماشومانو د خښتو د بټیو د معلوماتو د ټولوني چې ٤۰۹ تنه یې په دغو بټیو کې کار کاوه

**(۲،۰) صندوق، د یونسیف د رهبرۍ روزنیزه پروګرام د سرخ رود د ښځینتو په ښوونځیو کې**

د کورنۍ د بسیوادي او فقر له امله ماشومان اکثراً د ښوونځیو له خوا تر تهدید لاندې نیول کېدای شي. د یونیسف روزنیزه رهبري پروګرام چې په جلال آباد کې وړاندې شوې ده د ماشومانو د اسانتیا سبب شوې ده.

دغه کارکولی شي د درجه بندۍ په سیستم کې، چې د یونسف د تعلیمي رهبرۍ په واسطه په ننګرهار کې ترسره شوی، د ماشومانو لپاره یې آسانتیاوې رامنځته کړي. چې د ماشومانو د زړونو د سرښت مانع کېدای شي او همداراز دغه مفکوره والدینو لپاره پیداکیږي، چې د ماشومانو د اوږده کار په مقابل کې هغوی ښوونځیو ته واستوي او دا قرباني ومني.

هغه ټولګي چې د ښیو ترځنګ جوړیږي؛ دوه ساعته په ورځ کې وي او دغه ټولګي هم نورو ټولګیو لپاره زده کوونکی اماده کوي، چې له دې وروسته شاګردان په هغه جمعیتي ښوونځیو کې جذب کړي چې هلته جوړشوي دي. په دې ښوونځیو کې ۴ساعته په ورځ او۶ ورځي په اوونۍ کې درس ویل کیږي، د یونسف موخه داده، چې ماشومان په عمومي ښوونځیو کې شامل شي. دغه بنسټ په دې توانیدلي، چې د ۲۰۱۰ ع کال له پیل څخه ۳۰۹ تنه ماشومان په عمومي ښوونځیو کې داخل کړي .

II: ولې مرسته کوونکي په دې برخه کې باید علاقه مند وي، روښانه انځور:

اقتصادي خطرونه **:** ساختماني سکتور په راتلونکې کې نسکورېدل، په کار پورې د تړلو کارګرانو ازادول سختوي .

په داسې حال کې چې د ناخالصو داخلي تولیداتو رشد یا GDP پخپل قوت پاتې دی. د هېواد اقتصاد د انتقال د مرحلې په تطبیق تر ۲۰۱۴ ع کال او له هغه وروسته به د پام وړ او اساسي تغییر راشي . اوسنۍ اقتصادي وده (۸,۲% په ۲۰۱۰ مالي کال کې[۷]) ډېرۍ دغه برخه د مرستې او نظامي مخارجو له پلوه تمویلیږي. همداراز ۲۰۱۰ مالي کال ټولیزه مرستی چې له افغانستان سره شوي ۱۵,٤ ملیاردو ته رسیږي، او نظامي مخارجو ۱۰۰ میلیارد ډالر څخه زیات وو.[۸]

**(۰,٤) شکل، په افغنستان کې د داخلي ناخالصو تولیداتو د سکتور سلنه**




سرچني: ADB(۲۰۱۱)، (د آسیا او اقیانوسیه لپاره اړین شاخصونه ۲۰۱۱)، د آسیا انکشافي بانك

که د مرستو لړۍ کمزورې شي ښايي دافغانستان اقتصاد به هم مخ په ځوړ روان شي (۰,۵ شکل) په ځانګړې توګه په هغه برخو کې، چې د مخارجو او بیارغونې په برخو کې د مرسته کوونکیو له خوا پرمخ وړل کیږي. چې په دې توګه به د افغا نستان تکیه زیاتره پر زراعت رامنځته شي. د ځینو منفي اثرات د بهرنیو مخارجو د کسرونو له امله،رامنځته کیږي له

[7] ADB(۲۰۱۱)، اقتصادی

[8] نړیوال بانک، ۲۰۱۱

دي امله لړ دي. چي ډېر کارکوونکي، چي په ساختماني برخه کي کارکوي او ګټه پورته کوي افغانان نه دي؛ خو د وچو توليداتو لړۍ يي، چي د بې تجربي کارګرانو له خوا تر سره کيږي هم بند نه شي او پرمخ به ولاړ شي.

ډيری د هغو بټيو خاوندان، چي په لړ ګټو يي کارکاوه؛ اړ شوي، چي يا د خپلو کارونو لړۍ محدوده کړي او يا هم د بټيو بندولو ته اړ کيږي، چي د کارګرانو رقابتي معاشونه له نورو سره د رقابت په موخه کم کړي او يا هم د خښتو د مشتريانو ته پاملرنه په کي بدلون رامنځته کړي.

د خښتو د اړتيا د کمښت په صورت کي کوم نا برابري چي د تړلي يا وابسته کار پوري اړه لري. د بټيو د خاوندانو په ګټه تماميږي. په داسي حال کي چي د کار عرضه زياتيږي، تړل شوی کورنی د ۸،۸ غړيو په درلودلو سره چي د ملي ودې څخه زيات دي د خښتو د بټيو خاوندانو ته د تجديد وړ کاري سرچينه برابروي.

حتا که کارګران خپلو قراردادونو ختم کړی، پردی سربيره به هم د بي تجربه ګي او د کور د نه شتون له امله په ډېرمشکل په بټيو کي کار پريږيدي.

**تولنيز خطرونه :** دم ګړی هغه چاته ډېره اړتيا ليدل کيږي، چي د بشر دوستی له مخي اقتصادي پراختيا ته کار وکړي او د فعاليتونو کمښت او د کارګرانو درانده قرضونه احساس کړی، تر څو اړتيا لرونکي کورنی تياري ونيسي.

پرته له تعليم، تربيي او نورو ته د انتقال وړ مهارتونه، تړلي يا وابسته کارګران په شمول د ماشومانو او لويانو په لازمه توګه د بل کار تر سره کېده نه شي اماده کېدای. نو په دې حال کي د هغو په ژوند کي بدلون ډېر ستونزمن دی.

هغه اقداماتو ته اړتيا ده چي د مهارتونو د نه شتون له امله د تړلي يا وابسته کار اړوند مهارتونه او د کورنيو پورونو ته رسيده ګي وشي.

د اقتصادي چاروکارپوهان او چارواکی وخت لري، چي د کورنيو دغو ستونز ته د حل لاری پيدا او ورسره مرسته وشي. د بېلګي په توګه نوي راستانه شوی کورنی ،چي غريب او ژوند يي له ستونزو ډك دی او مسلکي زده کړو ته اړتيا ، دغذا په مقابل کي کار ورته برابر کړي؛ خو د بده مرغه، چي ځيني کارګران د ډېرو پورونو پرلامل دغو کارونو ته چمتوالی نلري. دغه کارګران د مسلکي زد کړو د کار لپاره پوره وخت په واك کي نلري. دوی اړ دي، چي د خپلي کورنی د اړتياوو د پوره کولو لپاره نوروکارونو ته مخه کړي او که امکان ولري؛ نو د بټيو د خاوندانو په اجازه دوی د کار سيمي پريښودو ته هم تياری نيسي.

کورنی نه يوازې دا چي د مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره اړتيا لري، بلکي د بټيو له خاوندانو سره د پرله پسي همکارۍ مهارتونو ته هم بايد لاسرسي ولري. په دې توګه د بټيو له خاوندانو سره د مرستي وړتيا، کړنه، د فارمونو جوړول او خياطي د کورنيو اړتيا وې تر يوه بريده پوره کولي شي. يو لړ کارونه او فعاليتونه شته، چي د ميرمنو له خوا هم په کور کي ترسره کېدای شي؛ په اوس وخت کي نجوني او هلکان، چي د جنسي توپير له مخي نشي کولي د خښتو په بټيو کي کار وکړي؛ نو کولی شي په کورونو کي يو شمېر کارونه ترسره کړي او د کار د سرچيني په توګه کاروکړي. دغه کارونه د بازار له اړيکي پرته په کورکي ترسره کيږي. په ځانګړي توګه هغه کارونه چي ټولنيزه اقتصادي جنبه لري فقر اوستونزي ترخپل اغېز لاندي راوستلی شي. بشري او اقتصادي کارپوهان بايد د دغه ستونزي دحل په برخه کي په ګډه کاروکړي، چي د خښتو د کارکوونکيو د بحران د له منځه وړلو لپاره يو له نوښت ډك پلان جوړکړي.

**سياسي ننګوني:** د خښتو په بټيو کي د تړلي يا وابسته کار، د راستانه شويو د ځای پر ځای کولو چارې د ناکامی ښکارندوی ده

دغو کارکوونکو د هغو قراردادونو له مخي، چي د بټيو له خاوندانو سره يي کوي ډېری حقوق د يو افغان په توګه، چي بايد ويې لري هم له لاسه ورکوي. د دغو کارګرانو قراردادونه د دوی په وړاندې د نورو کارونو مخنيوی کوي. تر هغې، چي د دوی له خوا اخيستل شوي پورونه بېرته ورنه کړل شي، دوی بل ځای کار نه شي کولي. که څه هم د بټيو د خاوندانو له خوا کومه مخنيوی نه وي؛ خو کورنی د اخيستل شويو پورونه له امله ماشومان نه پريږي چي بل کار وکړي يا لوست ته پريږدی.

په ډېرو برخو کې د بټيو خاوندانو هم د کارکوونکيو په وړاندې خنډونه جوړکړي او هغو يې زيانمن کړي هم دي، چې د دغه ناقانوني کار د منلو پر لامل د کارکوونکي ډېرى حقوق قرباني کيږي.

په مستقيم ډول د پاکستان له بټيو څخه د افغا نستان بټيو ته کارکوونکي استخدام کيږي، چې دغه ډول کارونه دغه راستانه شوې کورنۍ چارې له ناکامۍ سره مخ کوي. د هغو کارې تګلاره په دې صورت کې محدوده کيږي او د هغوی ماشومان د دولت لخوا په جوړو شويو ښوونځيو کې له زده کړې بې برخې کيږي او ان روغتيايي آسانتياوو ته هم لاسرسی نه پيدا کوي، چې دوی په ټولنه کې په ټيټه برخه کې پاتې کيږي. دا بيا له يو نسل څخه بل نسل ته انتقال مومي او سيکلي بڼه خپلوي.

**د نسلولونو تر منځ د غربت ځانګړتياوې او د هغې دوران:** که لازم اقدامات تر سره نه شي ماشومان اړ دي چې هماغه سيکل چې والدين يې ورسره لاس او ګريوان دي، دوی هم په کې ښکېل شي.

پر تړلي کار پورې اړوند مشکلات نه يوازې د هغو شرايطو له امله چې هره ورځ پر تړلو کار کوونکو تپل کيږي رامنځته کېږي، بلکې هغه سيکلونه چې د تړلي کار په وسيله رامنځته کېږي د تړلي کار او اجباري خدمت له امله په دايمي توګه رامنځته کېږي هم موجود دي.

**د پور دوران (سيکل):** د نسلونو تر منځ د پورونو انتقال ماشومان کومه بله لاره نلري پرته له دې، چې د پلرونو غوره شوې لار تعقيب کړي، په عين وخت کې د فقر عمده مسايل او د ژوند اړتياوې کورنۍ دې ته اړ کوي تر څو پرله پسې پور واخلي. اکثره وخت کومه پور چې د ژمي د خوراکي توکيو لپاره اخيستل کېږي اړ دي چې ټول موسم د دې پوردپوره کولو په خاطر کار وکړي.

**د زيانمنيدني دوران:** کورنۍ دخښتو په بټيو کې پاکستان ته د مهاجرت له وخته پوروړې پاتې دي. د بټيو د خاوندانو له خوا د دوی له اړتياوو ګټه پورته کيږي، چې له همدې لامله دغه کورنۍ له بيا ستنيدو څخه وروسته هم خپل بخت کمزورې ګڼی، چې پر همدې لامل بېرته راستانه شوي کسان د ګټورو کارونو لپاره خپل بختونه له لا سه ورکوي.

**د تړاو دوران:** کارکووونکي د ژوند لپاره د يو شمېرآسانتياوو د برابرولو په موخه او د سرپنا د پيداکولو لپاره د بټيو د خاوندانو لپاره تل اړوي. له دې امله چې دا کورنۍ د مهاجرت په دوران کې وو نو د ځمکو او کورنو ته لاسرسی نه درلود. د دغو د مجبوريتونو پر اساس قرادادونه کړي، چې ونه شي کولی د نورو منابعو له لارې کور پيداکړي. له همدې لامله دوی د کور د نشتوالي له کبله د کارګرانو په ډېره ټيټه سطحه کې پاتې کيږي.

**د فقر سيکل:** زيات مصارف، چې د ماشومانو د کار په واسطه رامنځته کيږي؛ ډېرې کورنۍ له ډېروکورنيو سره ورته ځانګړتياوې پيدا کوي.کله، چې دوی زاړه او يا مړه شي؛ نو دغه کاريې بيا ماشومان کوي اوهمدغه مسله د لويانو لپاره هم ده هغه مهارتونه، چې د خښتو له بټيو بهر وې دوی يې نلري.

### III : په راتلونکي کې څه بايد وشي د انتقالي فقر د ريښو رامنځته کيدل:

په روانو حالاتو کې د افغانستان د خښتو په بټيو کې د تړلي کار له منځه وړل امکان نه لري. په ځانګړي توګه د انتقالي جوړښتونو چې په هغه کې د افغانستان اسلامی جمهوريت مسووليت لري. د يونيسف له پروګرام څخه په الهام اخستنې، چې د ننګرهار په سرخ رود ولسوالی کې تطبيق شوې ده لازمه ده چې مرسته کوونکي د کم مصرفو وسايلو باندې چې د فشار د کموالي سبب ګرځې او په قرض پورې تړلي شرايطو کې ښوالی راولي او پاملرنه وکړي.

د خښتو په بټيو کې د تړلي ياوابسته کار د له مينځه وړلو په موخه يو ستراتيژيك چوکاټ ته اړتيا ده. تر څو له هغه وسايلو څخه چې د افغانستان له شرايطو ، د دولت د ظرفيت او د تړلي کار ځانګړتياوې سره برابر دي کار ورڅخه واخيستل شي. ستراتيژيك چوکاټ بايد د امر ورکولو پر ځای چې ډېر محدوديتونه مينځ ته راوړي د کارنده پاليسيوڅخه استفاده وکړي چې خلك يې د هغوی د فعاليتونو په تغير راوستولو کې هڅوي، تمرکز وشي.

برنامي بايد مشخص كړي چي ولي ماشومان كار كوي؟ او هڅه وكړي چي تر څو د عادي اقداماتو پر ځاى چي ماشومان له كار څخه منع كوي حتى كه چېرې د خپلي كورنۍ ډوډۍ په غاړه ولري كورنۍ اړتياوو چي ماشومان كار ته اړ باسي بايد حل كړي.[9]

له دې سره سره بايد لاندې عوامل هم بايد په ستراتيژك چوكاټ كې ځاى پرځاى شي.

د مالي اعتباراو كوچنيو پورنو ته لاسرسى، د ترلي يا وابسته كار بين نسلي اړخ، د ځمكي د اجارې حقوقي مسايل او له سرحدونو هاخوا او د مهاجرينو د راستنېدو مسايل.

## د كوچنى اقتصاد اړخ

مالي اعتبار يا كريدت د ترلي كار په زړه كي ځاى لري؛ ځكه مخكى له مخى معاشونه او پورونه هغه عوامل دي، چي كورنۍ په ترلي حالت كي د قرضي د ترلاسه كولو په هيله ساتي. منابعو ته له لاسرسي پرته د مالي اعتبار بديل، كورنۍ پر داخلي وسايلو(د ماشومانو كار) ډاډمني كوي او له ترلي كار(لږ مزد، بې هڅې او نور) سره بسنه كوى.

په داسي حال كې، چي دا كولى شي له تړاو څخه د پور پر بنسټ د ژغورني لپاره ګټور وسايل شي. وړې پور د سيمه ييزو توليداتو د رامنځته كولو لپاره ترليو كارګرانو ته مناسبې نه دي؛ ځكه د هغو تړاو په پوره آسانۍ د پورونو په كوچنيو موسسو اوړي. په دې صورت كي داسي مالي وسايل شته، چي كه د مالي تعليماتو مشورې سره يوځاى شي كولى شي كورنيو سره د قرضي د دوران په ماتولو كي مرسته وكړي او له زيانمنېدني يې په پوره توګه مخنيوى وكړي. دغه وسايل لكه پر صرفه جويه ډلګي لرونكي ټولني(CBSGs) سربېره پر دې، چي د پور اخيستني دكچي را ټيټولو وسايل رامنځته كوي، په ټولنه كي دننه د اجتماعي مصوونيت شبكه هم جوړوي.

## ټولنيز اړخ

د ټولي كورنۍ د فقر د كربنې له ارزوني پرته ماشومان اړوند كارونو ته رسيدګى نه شي كيدى.

له دې پرته، چي د نسلي پور د لېږد بهير د جنوبي آسيا هېوادونو د خښتو په ټولو بټيوكي معمول دى؛ نو دا دې لامل شوي، چي د ماشومانو د بشري ودې خنډ شي. بشري ځواك يا انساني پانګه د ماشومانو د تعليماتو له لارې شوني ده؛ نو كه يو ماشوم زيات كار وكړي؛ نو څرګنده ده، چي د تعليم لاسته راوړنه به يې كمه وي. له شك پرته كله، چي لويېږي د فقر كرښه يې ور سر هم پراخېږي.[10]

(۰,۵) شكل، په افغانستان كى د نسلونو تر مينځ د خښتو د بټيو تاريخ




د هغو ارزونو پر بنسټ چي پدې څېړنه كې شوى دغه راز دوران د افغانستان د خښتو په بټيو كي شتون لري. ٪۶۴ كورنۍ چي سروى شوى دى ۱۱ كاله كاري سابقه په بټيو كي لرى(۰,۶) شكل.

لكه څنګه چي ښكاره ده په ډېر شمير خلك د ۱۸ كلنۍ تر ۲۲كلنۍ پورى اوس هم په بټيو كي له والدينو سره ترلي دي. ددغه سيكل د له

[9] Edmonds, Eric V. (2003), په سهيلي آسيا كي د ماشومانو كار ( OCED Social) د استخدام او مهاجرت ۵ شمير وكارى سند.

[10] Basu and Tzannatos, 2003.

مینځه وړلو احتمال پرته له لازمو اقداماتو ممکن نه دی.

دسیکل د له مینځه وړو تګلاره :

هغه ډ

پور او فقر په نژدې راتلونکې کې باید پر کورنی تړاو او د ماشومانو پر کار راوڅرخي چې ماشومان وکولی شی انسانی ځواک لکه ځنګه چې ورته لازم دی ترلاسه کړی او په پای کې له اوږدمهاله سره يې کورنی وضيعت ښه والی مومی. په هغه صورت کې چې کورنی د دغه سیکل په له مینځه وړلو بریالی نه شی نو دا به بیا د اقتصادی ودې لپاره ستر خنډ وګرځی.

افغانستان د داسې نفوسو په لرلو سره چې ډیری یې ټیټ مهارت لري او بی سواده دی، د دوراني غربت او د انسانی ځواک پراختیا یې ستري ملي ستونزي دي چې د ښنتو په ښيو کی یې وده کړی ده.

**(۰،۳) صندوق، کومه برخه غوره ده: د تعلیماتو عرضه یا تقاضا**

د هغی مرکي له مخی چې له Eric V. Edmonds د اقتصادي مطالعاتو په ملي انستيتوت د *Dartmouth* *کالج* داقتصاد څانګه له استاد پربنسټ شوی ده.

ډیری کسان په ځانګړې توګه هغوی چې د ښووني او روزني په څانګه کې کار کوي فکر کوي چې د تعلیماتو د لږوالی علت د هغی په عرضه کې دی. ضعیف کړنی یا د ښونځیو تمویل ته نه اړین دی. پدې اړه چې ښوونځی باید ډیر او ښه جوړ شي راڅرخیدل اوږده سابقه لری. څه چې هیر شوی هغه دادی چې خلک ددغو تعلیماتو په ارزښت پوهېدلو ته اړتیا لری. د ښوونځیو لرل او غوره ښوونځي د تعلیم غوره شرط دی خو که له لګښت سره ښوونځیو ته پاملرنه ونه شی؛ دا خطر وجود لری چې ډیر په تش پاتې شي یا به له هغو ماشومانو ډک وي، خو غوره ځواک د بریالیتوب په کې موجود نه وی.

### حقوقی اړخ:

د تړاو د سیکل د ماتولو لپاره ترلي کارګران د ځمکي لرلو لپاره ملاتړ ته اړتیا لري، چې وکولای شي له هغې د سرپناه او حلالي روزۍ وګټی. زمونږ څیړنې ښودلي چې ډیری تړلي کارګران د تاریخي او سنتی شواهدو له مخې په هغه کورنیو پوری اړه لری چې مخکی یې د حلال رزق د پیداکولو لپاره په زراعتي چارو کې بوخت وو. او د ټیټوني ستره سرچینه یې ګڼل کېده. مهاجرت یې د ژوندانه بڼه ور تغیر کړې او هغوی یې د ښنتو د تولید له صنعت سره مخ کړې دي د اجاره داري د حقوقو پر پیژندني سربیره د نورو حقوقو لکه د کارګرانو حقوق، د ماشومانو حقوق او نورو ته هم اړتیا ده.

### سیاسی اړخ:

د تړلي یا وابسته کار اړوند ستونزې د افغانستان له ملي پولو وتلي او د سیمي په سطحه ستونزې یې راپورته کړی دی ځکه ډیری یې له پاکستان څخه زیانمني ستونزې او منفي استفاده ترې پیل شوې چې د پور او تړاو سیکل یې جوړ کړی. د مهاجرو کورنیو له راستنیدو وروسته هم پخپل حال پاتې دی. په پایله کې به د پاکستان او افغانستان سیمه ییز اغیز د ښنتو په ښیو کې د سیاسي مسایلو او د کار د بنې بدلون د ستونزو سره حل کولای شي.

ستونزې او سرحدي پولو ته په پاملرنه باید د افغانستان او پاکستان ترمینځ د ښنتو ښیو او ترلیو کارګرانو اړیکي باید وڅارل شي چې لږیدلی محدودیتونه پای ومومی او د هغو ترمينځ شوي تړاوونه مات شي. په دې اړه سیمه ییزو او محلي بنسټونه ځواکمني استازیتوب ترسره کولای شي، له پاکستان څخه راستنیدونکي افغانستان ته له خپلو دفترونو وڅاري.

په پای کې د مهاجرينو راستنيدنه او اقتصادي مهاجرت د ښځو بټيو ته ټينګه ځانګړې غواړي، چې واقعيتونه په دې اړه روښانه شي. همدارنګه ځانګړه او ارزيابي مرسته کوي چې د شريکانو د معلوماتو او تبادلې ډاډ رامنځته شي.

دغه مطالعه او څيړنه لومړنۍ هڅه ده چې د کاري ځواک په پيژندنه او په افغانستان کې د ښځو د توليد لپاره د تړلي يا وابسته کار پر پراختيا ترسره شوې ده، نه يوازې د منظمې ځانګړې هڅې ته پوره اړتيا شته بلکې ددولتونو پاليسي جوړونکې، مرسته کوونکې او نړيوالې ټولنې هم کولی شي په دې اړه خپل معلومات بشپړ کړي.

## IV: د ارزونې لارې چارې (ميتودولوژي):

د دې څيړنې د بررسۍ په بنه او ميتود کې له کمي او کيفي څيړنيزو وسايلو څخه ګټه پورته شوې ده چې د افغانستان د ښځو په بټيو کې د کار د تړاو بشپړه بررسي رامنځته شي. زموږ د څيړنې په ميتودلوژۍ کې د عرضې او تقاضا د عواملو بيلابيل اړخونه، چې پر ماشومانو د کار بدې بنې يې رامنځته کړې، په نظر کې نيول شوي دي. همدارنګه دغه څيړنه پر ماشومانو او لويانو د تړلي يا وابسته کار او ځانګړې ، چې سره په ګډو اړيکو کې دي راپيژندنی.

- **د ۱۹۰ کارګرانو د کورنيو** سروې يوه ټولنيزه معلوماتي سرچينې دغې سروې ته برابر کړې ده. د بيلګې اخيستنې هدفمنه طريقه او وروسته انتخابي کړنه ترسره شوې؛ ځکه هدف انتخابی بيلګه (نمونه) اخيستنه په ملي سطحه نه وه، خو يوه هدفمنه نمونه ده، چې ماشومان کارګران او لويان يې په هره ولسوالۍ کې پوره پرخوالی دی.
- **د فعاليتنو دوه سيمه ييزې سروې** چې د ښځو ۲۵ بټيو لرونکې او ۲۸ د اجتماع (ټولنې) غړي په کې برخه لري، ترسره شوې.
- **په ۹ برخو کې متمرکز** څو کسيزه مرکې ، چې د ماشوم کارګر (۴ ډلې) لوی کارګران (۳ډلې) او د بټيو لرونکې (۲ډلې) په ده سبز او سرخرود ولسواليو کې ترسره شوې ده.
- پر کارګرو ماشومانو،کورنيو، يو کارفرما او يو نوی **مستخدم سره د يوی قضيي يوه بشپړه** څيړنه يا اضافي معلوماتو د راټولو په موخه ترسره شوې ده.
- تحقيقاتی ډله له شريکانو او اړوند فعالينو سره چې د تړلي يا وابسته کار، دماشومانو کار و د ښځو له فابريکو په اړه معلومات لري، اړين او خبر جوړونکي ملاقاتونه ترسره کړي دي.

دغه څېړنه: د خښتو په بند کې بر سرليک لاندې (د افغانستان د خښتو په بټيو کې د کار ځانګړو محدوديتونو ته يوه لنډه کتنه) راټول شوی. په لنډه توګه وړاندې کوي اويو راپور دی چې د ماموريت رهبري يې دکار د نړيوالي سازمان په غاړه ده اود سامول هال د څېړونکو له خوا څېړل شوی او ليکل شوی دی. د دغه ګزارش محتويات پرلاندې معلوماتو او ارقامو بحث کوي:

- د خښتو د توليد کاري منابع او بڼې
- د تړليو يا وابسته کارګرانو مزد او قرضه

د خښتو په بټيو کی د ماشومانو د تړلي يا وابسته کار شتون.

دغه گزارش په انترنتی پاڼه:www.ilo.org/asia او http://www.ilo.org/asia/countries/afghanistan/lang--en/index.htm

کې هم لوستل کېدلای شی.

Copyright ©International Organization2011

د خپروني او چاپ حق محفوظ دی.

د کار نړیوال سازمان خپروني د نړیوال کنوانسیون د دویمي ګڼي پروتوکول پر بنسټ د چاپ او خپروني حق الامتیاز لرونکي دی. په دې صورت کې د دې سند لنډې برخې کېدی شي پرته له کوم خنډ چاپ او خپرې شي، خو په دې شرط چې د سرچيني يادونه وشی. د ژباړې يا خپراوی لپاره بايد د کار نړيوالي سازمان د خپروني (جوازنامو او حقوق) غوښتنه وشي: د کار نړيوالي ټولني دفترCH-121 ژنيوا ۲۲، سويس يا لاندې بريښنا ليک Pubdriot@ ilo.org

سره اړيکه ونيسئ.

د کار نړيوال سازمان مو دغو غوښتنو ته ښه راغلاست وايي:

کتابتونونه، بنستونه او نور ګټه اخيستونکي چې د چاپ او خپراوی د حقوقو په ټولنه کې ثبت دی کولی شی د جوازنامي له مخي د دغه سند کاپي واخلئ.

په خپل هېواد کې د چاپ او خپراوی دحقوقو ټولني د پيداکولو لپاره لاندې ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ:

Www, igrro.org

ISBN 978-92-2-125954-1

هغه سرليکونه چې د کار نړيوال سازمان په خپرونو کې کارېږي د ملګرو ملتونو له کړنلارى سره مطابقت لري او د مندرجه موادو وړاندې کول په هېڅ ډول د کار نړيوال سازمان له خوا د کوم هېواد پرحقوقي وضيعت، سيمه او د هغو اړوندو ادارو او د هغوی د پولو د تعينونو په معنا نه دی.

په مقالو،څېړنو او نورو خپرونو کې چې کوم نظريات مطرح کېږي مسؤوليت يې د ليکوالو پر غاړه دي او په خپرونه کې له خپرو شويو نظرياتو او عقايدو سره د کار نړيوال سازمان موافقت نه ځرګندوي.

د شرکتونو د نومونو، سوداګريزو محصولاتو د نومونو ذکر په دې سند کې دامعنا نه لري چې د کار د نړيوالي سازمان لخوا له هغو ملاتړ کېږي او نه هم د کوم ځانګړي شرکت، سوداګريز محصول نه يادېدل دا معنا لري، چې د کار نړيوال سازمان يې په برخه کې منفي نظر لري.

د دغه څېړني او خپروني ځيني مصارف د امريکا متحده ايالاتو د کار وزارت له خوا برابره شوي ده(د کار د نړيوال سازمان د پروژې له لارې INT/08/93/USA)

دغه خپرونه د متحده ايالاتو د کار د وزارت د پاليسي او اند ځرګندويه نه ده او هم د يو شمير سوداګريزو نومونو محصولاتو يا سوداګريزو ټولنو د نومونو يادول د متحده ايالاتو د حکومت د تاييد او ملاتړ نه ځرګندوی.

کابل – افغانستان

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.